مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۱/۰۸/۳۱

د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

لومړی ټوک

نهه ویشتمه برخه

د بدخشان ولایت

او

د افغانستان شمال ختیځې برخې

تصحیحات

ډاکټر لوډویک . ډبیلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1972

د افغانستان سیاسي او تأریخي ژورنال

واخان : ۵۱ – ۳۶ تر ۲۹ – ۳۷ ، ۴۵ – ۷۲ تر ۳۰ – ۷۳ : دا د دې ولایت په وروستۍ شمال ختیځې څنډې کې د یوې ولسوالۍ نوم دی. دا د هندوکش په شمال کې واقع ده او د ستر پامیر له هغې یوې برخې جوړه شوې چې د اکسوس د ځانګې د ویکتوریا د جهیل په سویل کې واقع ده، او هم کوچنی پامیر، آبِ واخان او د پنجه د درې نیمایي سویلي هغه برخه یعنې له قلعهٔ پنجه نیولې تر اشکاشم پورې سیمه په ځان کې رانغاړي.
دا سیمه پخوا د خپلو میرانو له خوا اداره کېدله او د پنجه د ټولو سیندونو د ډوبیدلو برخې په کې راتللې.
له ۱۸۸۳ز کال راوروسته دا ولسوالي د افغان حاکم له خوا اداره کېږي چې دی په خپل وار د بدخشان د والي تر اداري لاندې دی. واخان په څلورو «سدونو» (برخو یا علاقه داریو– ژ) ویشل شوی دی او هره برخه ئې د یوهٔ «آقسقال» تر لاس لاندې ده او دا څلور برخې دا دي : -

۱	سدِ سرحد	۳	سدِ خندوت
۲	سدِ سیـپنج	۴	سدِ ایشتراغ

دا وروستنۍ برخه یوه مهال یوه مستقله امیر نشینه سیمه وه. د دې سیمې آقسقال د واخان د نائب په وراثت کې ده.
په ۱۸۸۳ز کال کې د وګړو شمېر ۶۰۰۰ یعنی ۳۰۰۰ کورونه ول. په واخان کې یو کور د یوهٔ کورنۍ وړوکې کلي په معنی ده چې له ۱۲ تر ۵۰ تنو پورې په کې وي؛ خو د دې شمېرې په منځ کې منځنۍ شمېره کولای شو ۲۰ وګڼو. د وګړو دا شمېر ښایي اوس لږ وي ځکه ویل شوي چې د دوی یوه د پام وړ برخه تیر کال بیرته روسیې سیمې ته کډه شوه.
بل اټکل په لاندې ډول دی :

۱	سدِ سرحد	۱۲۲ کورونه	۳	سدِ پنجه یا سیپنج	۶۵ کورونه
۲	سدِ خندوت	۸۷ کورونه	۴	سدِ ایشتراغ	۶۰ کورونه

واخانیان منځنۍ ونه «میان قد» لري. نارینه ئې په څرګند ډول له تاجیکانو متمایزې څېرې یا مخونه لري او په عام ډول ډېر ښایسته دي. د دوی مخونه د لمر او باد له کبله لمر وهلي دي خو طبیعتاً دوی د ښایسته نژاد وګړي دي او په دوی کې شنې «آبي» سترګې عام دي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوی د وړیو «چپکن[1]» او «چوگا[2]»، پوستینونه او د پسونو غیر دباغت سوي پوستکي اغوندي. هغوی چې توان لري، لنگی هم ورسره تړي، خو د وگړو غټ شمېر ئـې په خولیو قناعت کوي چې له جامو سره ئـې برابري وکړي. د دوی جامې ټوټې ټوټې یا مندرسې دي او په خواشینۍ چې د رغونې نـهٔ دي او دوی ته یو ډول وحشیانه او گډوډ ظاهري حالت ورکوي. ښځې ئـې له وړیو جوړې چپن ډوله اوږدې جامې اغوندي او هغوی چې د وسعې څښتنان دي د مالوچو د ټوکر یوه ټوټه تر سر تاووي. هغه اقلام چې دوی ئـې د جنس په جنس مبادلې لپاره راوړي له وریښمو جوړ دستمالونه دي چې دوی ئـې «لبِ آب» بولي. د چینجیو تولید د اکسوس د سیند پرغاړو مخ په ودې دی. دا او تزئـیني چپکنونه د مشرانو او سردارانو لپاره د ډالۍ په توگه وړاندې کېږي. دغو بې وزلو غرنیو ته هماغه شخ شډل او ټینگ ټوکران گټور دي. د یوهٔ واخي لپاره د هغه رمې د هغـهٔ د بډای توب او ثروت نښه ده او یا په بل عبارت همدا ثروت دی چې دهٔ ته دا توان ورکوي چې د لوړو غرنیو درو په منځ کې وربانديِ د راغلو سختیو او آفاتو زغم وگالي. د پسونو پوستکي او وړۍ ورته د هر ډول جامو اومـهٔ توکي ورکوي او په دې توگه نر او ښځې ئـې دواړه د ژمیو لپاره ځانونو ته کار مومي. ښځې وړۍ پاکوي او وریښې ئـې او نارینه ئـې اوبې چې جامې ورڅخه جوړې کړي. د تبت ارزښتناکه وړۍ چې ورڅخه د کشمېر قیمتي شالونه جوړېږي او یا لږ تر لږه هغه وړۍ چې د ډېر ښـهٔ کیفیت وړ وي د واخان له وزو څخه تر لاسه کېږي.
د واخان اساسي تولیدي غلات نخود، ږدن او وربشې دي.غنم هم کرل کېږي خو په ډېره لږه کچه او هغه هم تر قلعـهٔ پنجه لاندې سیمې کې. د اپریل په میاشت کې دوی تخم شیندي او په جولای کې ئـې حاصل ریبي. ځمکه باید خړوبه سي ان که په منځنۍ کچې حاصل وشي نو ځمکې ته باید په کافي اندازې سره (کیمیاوي کوډ) ورکړل شي. د اکسوس په دره کې په ټول ژمي او پسرلي کې د توند باد چلښت چې ډېره لږه وقفه لري د نباتاتو لپاره ښـهٔ نـهٔ دی.
له ایشتراغ پرته نور په واخان کې د میوو ونې نـهٔ شني کـېږي. د قلعـهٔ پنجه په ورڅېرمو ځایونو کې یوازینۍ ونې چې شته د ولې او غان ونې دي حال دا چې له سرحد پورته د نښتر ونې ډېرې دي. له خندوت کښته د سپېدار د گڼو ونو ځنگلونه په کلیو کې عام دي.
د دې ځای کورونه د بدخشان کورونو ته ورته دي یوازېنۍ استثناء چې ده دا ده چې د کور په مرکزي ټکي کې د اور بلولو پر ځای دوی روسانو په سبک لوئـي لوئـي بخارۍ لري. دا بخارۍ د کالـهٔ یوه ټوله ډډه نیسي چې ټول کالـهٔ ته توده هوا لـېږي او د یوهٔ واخي د کالـهٔ ساده چت د هغـهٔ د هوساینې تر ټولو هوسا ځای دی. لوخی یا دود ئـې تر یوې اندازې ځوروونکی دی. دا تقریباً معمولي ده چې شپږ کورنۍ دې په یوهٔ کالـهٔ کې ژوند وکړئ نـهٔ دا چې لکه د بدخشان د خلکو په شان په جلا جلا کورونو کې ژوند وکړي چې هغوی هم یوه یا دوې خونې لري. د واخان استوگن وگړي د واخیانو په نامـهٔ یادېږي. دوی تقریباً په مولایي دیني فرقې پورې اړه لري چې د بمبئـي آغان ته خپل حق العضویت ورکوي.
دوی ټول شیعه گان دي او د امام جعفر صادق په مذهب دي. دوی د ارواحو په تناسخ ایمان لري او له لاهوتي هستۍ څخه منکر دي او وایي کله چې د انسان له بدنه روح ووځي دا روح په بل بدن کې ننوځي او په دې ژوند کې له ښو او بدو اعمالو سره نسبت لري. (دا باور د جدل وړ شوی او ځینې وایي چې دا د اسماعیله فرقې -تور یا تهمت دی.)
دوی روژه نـهٔ نیسي. دوی د «کلامِ پیر» په نامـهٔ یو کتاب لري خو دا کتاب هیڅ چا ته نـهٔ وربښیي.
د هغوی سترگي د بمبئـی میر آغا خان ته د دوی د یوهٔ دیني رهبر په توگه اوړي او تل د خپل مال یو په لسمه برخه هغـهٔ ته د صدقاتو په توگه جلا کوي او دوی خپله شتمني د خدای مالکیت «مالِ سرکار» په نامه یادوي. دوی د آغاخان پر استازي اطمینان لري او دا استازی دوی د «پیر» پـهٔ نامـهٔ یادوي. د آغا خان استوگنځای یعنی بمبئـي دوی ته د دوی د مَکې په شان ده. که څوک د دوی له منځه بمبئـي ته لاړ سي، نو د دوی ټول وگړي ورپورې راټولـېږي او د هغـهٔ لاس او پښې مچوي او د دهٔ ټول ځان ورته قدسیت لري؛ دغسې سړي ته د قوم په منځ کې د حاجي لقب ورکول کـېږي.
د واخان وگړي په څلورو قومي ډلو ویشل شوي دي : خیبر- کیتار، بیگ – کیتار، حسن – کیتار، میرهیه – کیتار.
غژگاو، کورني غوایي، آسونه، وزې او پسونه دوی سره په پریمانه شمېر دي؛ واخان کې فوق العاده عالي څرځایونه سته د واخانیانو بنسټیزه شتمني د دوی په کورنیو څاریو او رَمو کې ده. دوی په پریمانه اندازه وړۍ صادروي. د یارقند سوداگر دوی ته مالوچ او وریښم راوړي او پخوا به ئـې په بدل کې له دوی څخه آسونه، پسونه او د «چوگا» تودې اوبدل شوې وړینې جامې وړې. وریجې، مالگه او کتان کالي دوی له بدخشانه راوړي. وچ توت له وردجه راوړي او د بورۍ پر ځای ئـې کارَوي. په واخان کې کوم بازار نـهٔ سته او نـهٔ د ښارگوټي په نامـهٔ څه شی سته. ویل کـېږي چې پټور ته نـېږدې د سپینو زرو یو متروک کان دی. له قومي اړخه د دې سیمې خلک

[1] - chapkans : یو ډول لویې لویې ښځینه جامې دي. دا یو ډول لویې جامې دي چې ډېر غټ غټ لستوني لري او تاتاري ښځې ئـې اغوندي. ژ

[2] - chogas : یا چوغا : هغه ډول جامې دي چې د مغولو پر مهال نارینه وو اغوستلې. د ژباړې له اړخه کولای سو ووایو چې د چپن معنی ښندي. دا ډول جامې بابري مغولو هندوستان ته یوړلې او هلته دود سوې او اوس ئـې د راجستان نارینه اغوندي. ژ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په غلچه وو کې راځي او ژبنۍ لهجه ئې لکه د نورو غرنيو تاجيکانو په شان ده چې د «هندو – ژ» ايراني له کورنۍ څخه يوه ژبه ده او د واخي د ژبې په نامـۀ يادېږي؛ خو په عام ډول په فارسي پوهېږي. شک نـۀ سته چې د دې ځای هوا ډېره شدله او تونده ده. دلته د کال شپږ مياشتې د ځمکې پرمخ واوره پرته وي او ډېر شديد باد چې د واخان د باد پـۀ نامـۀ يادېږي چلـېږي او له حده وتلی توند او شديد دی.
واخيان د جنګياليتوب غرايز نـۀ لري، هيڅ ډول توند لاريتوب نـۀ لري او ندرتاً له ځان سره وسله ګرځوي. د دوی د سيمې منزوي حال او د دوی غير جذاب کرکتر دوی له تعرض او تيريو څخه خوندي ساتلي دي او دا ډول مصؤونيت دغه بې پروا او زړور نژاد په آرام او سوله ناک کرکتر لرونکي نژاد بدل کړی دی. خلک ئې ډېر ميلمه پال دي او په مطلق ډول مينه ناک وګړي دي چې د چا مينه ورسره راځي. دوی د سوداګرۍ او سيلاني توب کوم څه نـۀ لري او په ندرت چيرې سفر کوي.
د واخان لويديځه پوله د پتور او اشکاشم تر منځ دنګې او اوږدې غرنۍ څوکې دي. د واخان د دفاع لپاره تر ټولو ښـۀ موقعيت د قاضي دِه او پتور تر منځ کوزنۍ يا ټيټې اوږدې غرنۍ څوکې (لرغونی يخچالي بستر) دي.
له واخانه سويل خواته تللې لارې له ارشاد خوره بهورت، غزان، شوی تخ، بروغيل، خندوت، اوچيلي يا يُست، کچه، کوت ګز، يا سد ايشتراغ کوتلونو تـېرېږي او د ټولو مخه د چترال سيمې ده يوازې ارشاد بلی خوا ته يعنې هونزه ته ځي. د اوچيلي، کچ او کوت ګز لارې په ندرت د پلي تګ لارې دي؛ پاتې نورې لارې خلاصې وي او د آسونو د تګ لپاره عملي دي. يارقند ته دوه لارې تللې دي؛ يوه لاره د ستر پامير له لارې ده چې په دوبې کې هغه مهال د کارولو ده چې د سرحد لاره د اوبو له کبله د کارولو وړ نـۀ وي؛ نو په ژميو کې د سرحد او وړوکي پامير لارې دواړه د نورو په پرتلې مستقيمې لارې دي.
راپورونه وايي چې افغانانو واخان ته په ټولو تللو لارې کې د لس کسيزو سرتـېـرو څو پوستې اچولې دي. (ښايي هره پوسته ئې خاصه داران وي).
واخجير : وَخروجي : واخجير دوان : ۶ – ۳۷ ، ۲۹ – ۷۴ : لوړوالی : ۱۶۱۵۰ فيټه. دا د يوۀ کوتل نوم دی چې د سرقول په غرنۍ لړۍ کې له پامير تاغدمباش څخه د واخان پامير ته يا د آبِ واخان پورتنۍ درې ته لاره ورکوي. له دې کوتله د هونزه لاره تـېرېږي چې لومړی قيليق کوتل راځي او لاره ئې توغدمباش ته ځي او بيا له واخجير څخه واخان ته ځي. ويل شوي چې دا کوتل د واورو له مهالونو پرته نورو وختونو کې آسانه کوتل دی او د بار وړونکو څارويو لپاره له جولای څخه تر سپتمبر پورې د تګ راتګ وړ دی. *چينايان دا کوتل په دې ډول تلفظ کوي: (وا هو چې ايره شان کو[3])*
واخيندو : وګورئ : راغ : (۳۹ – ۳۰) – ۳۷ ، (۳۵ – ۲۲) - ۷۰
* **واخ روجوی** : وګورئ : واخجير : ۶ – ۳۷ ، ۲۹ – ۷۴
* **واخشي** : وګورئ : يکشي : ۴۹ – ۳۶ ، ۱۰ – ۷۰
واله : د شيخ علي هزاره ګانو يوه قومي څانګه
وليان : ۱۶ – ۳۵ ، ۵۴ – ۶۸ : په هندوکش کې د يوۀ کوتل نوم دی چې د کاوشان په ختيځ کې واقع دی. له دې کوتله د خنجانو – غوربند سړک تـېرېږي او ويل کېږي چې د افغان اوښانو لپاره د تګ راتګ وړ دی.
دا کوتل ظاهراً دا نوم د وليانو له کلي څخه اخلي چې د پټهانانو او هزاره ګانو ۶۰ کورونه لري او د هغـۀ منځغري له خولې څخه ۵ مايله ليرې دی چې د خنجانو د کوتل له بيخه تـېرېږي او دا د اندراب د درې يوه برخه ده. *دا کلی د دهنـۀ وليان په نامـۀ يادېږي : ۳۶ – ۳۶ ، ۵۲ – ۶۸*
* **وليان** : وګورئ : وليان : *۳۶ – ۳۶ ، ۵۲ – ۶۸*
* **وندیان** : وُنديان : ۳۶ – ۳۷ ، ۱۳ – ۷۰ : د فيض آباد په شمال ختيځ کې ۴۵ مايله ليرې د دوانګ د سيند پر غاړه د يوۀ کلي نوم دی.
ورم : ۳ – ۳۷ ، ۴۹ – ۷۳ : لوړوالی : ۱۲۷۰۰ فيټه. په واخان کې د يوې تنګې درې نوم دی، دا دره دشتِ ميرزا له دشتِ لنګر څخه جلا کوي. دا ځای د سرتـېـرو د کمپ وهلو لپاره ډېر اعلی ځای دی، اوبـۀ، د څارويو وابښـۀ، سون لرګي هرڅه دلته پريمانه دي.
د ورم کوتل چې د ويکتوريا او د لنګر تر منځ واقع دی دا ښکاريانو د تګ راتګ لاره ده چې په کال کې يوازې د څو مياشتو لپاره خلاصه وي او د بار وړونکو څارويو لپاره عملي نـۀ ده.
ورچي : ۵۹ – ۳۵ ، ۱۳ – ۶۹ : دا د يوې تنګې درې يا ناوې نوم دی چې له يارم څخه ۳ مايله کوز د نهرين په برنۍ درې باندې ورننوځي. نيم مايل پورته ئې يو کلی دی چې د ابسيناره وو وګړو ۴۰ کورونه په کې دي. له دې درې يوه لاره د تندورۀ کلان د غرۀ سر ته تللې ده.
وردوج : وردوج : ۹ – ۳۶ تر ۱ – ۳۷ ، ۴۷ – ۷۰ تر ۳۵ – ۷۱ : دا په بدخشان کې د يوې درې نوم دی چې د کوکچې د سيند د يوې څانګې په وسيلې خروبېږي، د دې درې لمنه له سويله رُباطِ چهل تنه پيل او په شمال کې تر يردار پورې غځېږي، (چې ۴۰ مايله واټن راځي)، ورلاندې ئې د بارک ولسوالۍ پيل کېږي.

[3] - Wa Ho Chi Erh Shan K'ou

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

رُباط چهل تن نـېږدې دره ډېره تنګه ده؛ خپله مخه د تيرګيران لور ته خلاصوي او په دې سره د تيرګيران او صوفيان تر منځ لا نوره هم تنګـېږي. دې درې کې ډېره ښه کرهڼه شوې ده او په هر لنډ واټن کې ئـې د سيند پر دواړو غاړو باندې کلي ودان دي. د غرونو ډډې ئـې ستوغې او لوڅې دي. اقليم ئـې له رُباط چهلتن څخه تر رُباط پورې ډېر سوړ دی او دې ځای کې د ميوو ونې نـهٔ شني کېږي؛ خو له کزدهٔ «قاضي دهٔ؟ - ژ» څخه تر سفيد درې پورې اقليم تودېږي او د ميوو ونې پريمانه دي لکه توت، زردآلود، مڼې، انګور (د ټيټ کيفيت ډول) او د چهارمغزو ونې. غنم په کې کرل کېږي همدا شان لږ وربشې هم کرل کـېږي. په يردار او له يرداره کښته شولې کرل کـېږي.

د وردج د کلیو نومونه دا دي :

کلي	کورونه	کلي	کورونه
کيشران/ قشران	؟	بره بره	؟
اوشته کان	؟	کوی	؟
دهٔ قيلات	۵۰	يليچ ګيرو	؟
رباط چهلتن	۶	تير ګيران	۶۰
کوبک	۱۲	صوفيان	۱۰
کز دِه (قاضي دِه ؟ - ژ)	۵۰	بشان/ باشان	۸
سفيد دره	۴۰	پشه	۴
غچان	؟	يومول	۲۰
رُخشان	؟	خوش پين	۴
بره بره	۱۰	زو	۸
غنيو	؟	يژکچه	؟
يخ شيره	؟	قوش دره	۶
ترنګ	۸	دشتک	؟
چکيران	۳۰	يردار	۱۸
شوفه چن	۳۰	پسِ باش	؟
اوسکان	؟		

د دې ځای استوګن وګړي له دوه وو نژادونو څخه دي : تورکان او تاجيکان. تورکان دلته له څلورو قومي جوړ دی: (۱) علي موګل، (۲) چونـــک؛ (۳) قولتاتای؛ (۴) چوچي موګل. دوی په تورکي ژبې خبرې کوي. دوی د وردوج بومي اوسـېـدونکي نـهٔ دي، دوی د دې ځای له اوسېـدونکو څخه ځمکې پېـرودلې دي او دلته ميشت شوي دي. بل نژاد ئـې تاجيکان دي او په فارسي ژبې خبرې کوي. دوی له تورکانو سره خپلوي لري او تورکان له دوی سره د ودونو له لارې خپلوي لري. په دې درې کې تورکان لم لرونکي پسونه لري او تاجيکان د اوږدو لکيو پسونه لري. دواړه تورکان او تاجيکان آسونه ساتي.

د دې دَرې تر يردار پورې د وګړو شمـېـر ۱۰۰۰ تر ۱۲۰۰ تنو پورې اټکل شوی دی.

چاکيران/ چاقيران د دوی اساسي کلی دی او دا د ارباب د استوګنې ځای دی. د وردوج حاکم په جرم کې ژوند کوي.

ورګ : ۴۰ ــ ۳۶ ، ۵۰ ــ ۷۱ : دا په واخان کې د يوهٔ کلي نوم دی چې د آبِ پنجه د سيند په کيڼي غاړې کې واقع دی. دلته څو واړهٔ واړهٔ کلي سته چې د وګړو ټول ټال شمـېـر ئـې ۲۰۰ تنه کـېـږي. دا کلی په يو ډېـر ښايسته ځای کې پروت دی چې د سپېـدارو ونو غړوسکي يا ګڼې ونې لري او په ډېـرې برخه کې ئـې کرهڼه سوې ده. د ورګ مقابل لوري کې سيند ډېـر توند بهـېـږي او يوه تنګه دره ده چې په کنډونو او ګړنګونو کې پټه ده.

* **ورک** : وګورئ : ورګ : ۴۰ ــ ۳۶ ، ۵۰ ــ ۷۱

* **ورسج** : ۴۹ ــ ۳۵ ، ۵۸ ــ ۶۹ : دا په هندوکش کې له ورسج تر رُخې پورې د تللي سړک په لاره کې د يوهٔ کوټل نوم دی. همدا شان په (۱۳ ــ ۳۶ ، ۲ ــ ۷۰) کې د يوهٔ ښار ګوټې نوم دی چې د تخار د ولايت د ورسج د علاقه داری مرکز دی.

واشروا : ۳۳ ــ ۳۷ ، ۲۷ ــ ۷۱ : دا د يوهٔ سيند نوم دی چې د پنجې د سيند په کيڼي غاړې کې له بار پنجې لږ کښته بهـېـږي. لږ پاس بدخشان ته يوه لاره تللې ده چې په دوبي کې د غرزبين د کوټل له لارې کارَول کـېـږي. د دې سيند خولې ته نـېـږدې، په خپله دا سيند په ۷ کانالونو ويشل کـېـږي چې په منځونو کې ئـې واړهٔ واړهٔ ټاپوګان يا جزاير دي او څه دباندې نيم مايل په واټن له يو بله جلا کـېـږي او د دوی په منځ کې پينځم يا شپږم کانال ئـې تر ټولو ډېـر ژور دی چې د اوبو د توند بهير له کبله پورې اوښتل ورڅخه ډېـر ګران کار دی.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

وزیت : ۵۹ ــ ۳۶ ، ۴۷ ــ ۷۲ : لوړوالی : ۹۵۰۰ فیټه. د آبِ واخان د سیند په ښی غاړه کې د یوۀ وړوکي کلي نوم دی چې له قلعـۀ پنجه څخه ۱۲ مایله پورته دی.
ویلو : ۵۵ ــ ۳۵ ، ۵۳ ــ ۷۰ : په منجانو کې له ۱۵ تر ۲۰ کورنیو پورې د یوۀ کلي نوم دی.
وندیان :وګورئ : واندیان ۳۶ ــ ۳۷ ، ۱۳ ــ ۷۰
ولف : ۲ ــ ۳۶ ، ۱۵ ــ ۷۱ : په منجانو کې د یوۀ کوچني کلي نوم دی چې کافرانو وران او ویجاړ کړی دی؛ دا کلی د کرهنې لپاره فوق العاده عالي ځمکه لري او ځمکه ئـې د میان شهر د خلکو له خوا چې ۲ مایله ورڅخه لیرې دي کرل کـېږي.
د ولف کوتل (الیاس غر[4]) په هندوکش کې د یوۀ کوتل نوم دی چې د «میان شهرود اپسای[5]» له منځه تـېرېږي. دا کوتل د ولف له کرهنېزې ځمکې دومره ډېر لـېرې نـۀ دی. له ولف څخه تر «احمد دیوانه» پورې د یوې ورځې لار ده. په پام کې ده د کوتل سړک چې سپاه سالار جوړ کړي. دا ډېر لوړ کوتل دی. په دوبي کې آسونه ورڅخه په سختی تـېرېدلای سي.
وُرم : ۳ ــ ۳۷ ، ۴۹ ــ ۷۳
* **وایر** : وګورئ : ویر : ۲۸ ــ ۳۷ ، ۳۰ ــ ۷۱
یا اسیج : یاسج : ۴ ــ ۳۷ ، ۱۷ ــ ۷۱ : د یغردا د سیند پرغاړه د مدرسي د ختیځ په ۸ مایلی کې د یوۀ کلي نوم دی. افغان ګزیتر یا مجلې یو کلی ثبت کړی دی چې یاسیج نومـېږي چې د خیر آباد د ختیځ په ۲۸ مایلی کې دی او په ۵۹ ــ ۳۷ ، ۱۵ ــ ۷۱ کې واقع دی.
یفتل : **هفتل** : (۲۲ ــ ۱۰) ــ ۳۷ ، (۳۷ ــ ۱۶) ــ ۷۰ : د فیض آباد د شمال په نـېږدې چم ګاونډ کې د یوې ولسوالی نوم دی. دا یوه غرنی، حاصلخـېزه او په وګړو ډکه سیمه ده. خلک ئـې تاجیکان دي. له هفتلِ بالا څخه د خواجه پرواز تر کوتل پورې د راغ او شیوې تر منځ یوه لاره تللې ده. دا لاره بار پنجې ته د تللو دوبنی لاره ده.
د دې ولسوالی د وګړو شـمـېر په لاندې ډول اټکل شوی دی :

سیمې	د کلیو شـمـېر	کورونه	وګړ شـمـېر
هفتلِ بالا	۱۳۰	۲۰۶۰	۱۰۳۰۰
هفتلِ پائین	۹۳	۱۴۰۰	۷۰۰۰

په ډاډ ویلای سو چې په دې اټکل کې په غټ شـمـېر مبالغه سوې ده

یاغوردا : یاغرد : ۵۹ ــ ۳۶ ، ۲۴ ــ ۷۱ : دا په غران کې له انداج څخه د بدخشان د سرغیلان تر درې پورې لارې کې د یوۀ کوتل نوم دی. دا کوتل د نوامبر د میاشتې له پای د مې تر میاشتې پورې بند وي. دا لاره یوه سخته لاره ده چې ډېرې لوړې ژورې، اوترایي ګانې او چرایي ګانې لري. *دا کوتل د خیرآباد د ختیځ په ۴۰ مایلی کې دی.*
* **یکه بنده** : وګورئ : کونِ ګاو : ۴۰ ــ ۳۵ ، ۵۱ ـ ۶۸
یکاولنګ : دا په خنجانو کې د یوۀ کلي نوم دی چې د ګرهي هزاره ګانو ۴۰ کورونه په کې استوګن دي. *په بامیانو کې په همدغـۀ نامـۀ یوه ولسوالی هم سته.*
یکه بُته : ۱۰ ــ ۳۶ ، ۳۱ ــ ۶۸ : دا د یوۀ آسانه کوتل نوم دی چې د اوښانو د تګ لپاره عملي دی او د شرشرک د درې په سر کې واقع دی.
یخک : ۲۵ ــ ۳۵ ، ۵۰ ــ ۶۸ : دا د یوۀ خوږ نوم دی چې له لویدیځ لورې د ولیانو په منځغري کې بهیږي. له پاسه ئـې یوه لاره تللې ده او یو کوتل هم سته چې د کورو په منځغري ورځي.
یخ پی : یخ پچ : ۵۴ ــ ۳۵ ، ۱۲ ــ ۶۹ : دا د یوۀ خوږ یا تنګې ناوې نوم دی چې له شماله د نهرین پر درې راکوزېږي. د خواجه خضر له کلي پورته چې ــ د چینکي وزبیکانو ۲۰ کورونه ــ په کې دېره دي - دا دره په دوه وو برخو ویشل کـېږي او دوه منځغري جوړوي. ښی څانګه ئـې د دره سُنجان او بله ئـې د یک پچ په نومونو یادېږي. د درۀ سنجان له پاسه خنجانو ته یوه لاره تللې ده چې د اوښانو د تګ لپاره ښه لاره ده. ویل کـېږي یو وخت (امیر - ژ) عبدالرحمن (خان - ژ) په دغه لاره له خپل ځواک سره تـېر سوی دی، خو راپورونه وایي چې په دې لاره کې اوبـۀ بیخي ډېرې لږ دي، له دې کبله په دې لاره کې لرګي هم ډېر لږ دي. د منځغري له پاسه غر د کوۀ سُنجان په نامــۀ یادېږي. د خَشکه د کوتل له لارې لاره له دې لارې په تقاطع تـېرېـږي.
بُز دره د یخ پچ په درې کې د یوۀ وړوکي کلي نوم دی چې د ایشانانو ۱۲ کورونه په کې استوګن دي. له دې درې ۴ مایله پورته د یخ پچ د اوبو چینه ده. له بز درې څخه اندراب ته یو سړک (لاره ــ ژ) تللی دی خو ویل کـېږي

[4] - Alias Nghar
[5] - Mian Shahrud Apsai

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سخته لاره ده. د یخ پچ د اوبو له چینې څخه تر کوتلِ مُرغ پورې ۱۲ مایله لاره ده، په دغو ۱۲ مایلو کې هیڅ اوبـهٔ نـهٔ سته او نــهٔ هم د استوګنې کوم ځای لیدل کـېږي.
داسې ښکاري چې دا لاره د یخ پچ یا قصاب له کوتله تـېـرېږي.
یخ پی : وګورئ : یخ پچ : ۵۴ ــ ۳۵ ، ۱۲ ــ ۶۹
یخسـِر غار: ۳۹ ــ ۳۵ ، ۵۲ ــ ۷۰ : د کمربیده د کوتل شمال ختیځ ته د یوهٔ کوتل نوم دی چې د پرسُن له درې د منجانو تر درې پورې لاره ورکوي. دا کوتل د غلو او لوټمارانو له پلوه کارَول کـېـدهٔ او یوازې په دوبي کې د لنډ وخت لپاره خلاص وي.
واخشي : ۴۹ ــ ۳۶ ، ۱۰ ــ ۷۰ : دا د یوې درې نوم دی چې له شماله د سویل پر لور پرته ده او د مَشـَد د کوتل په ختیځ کې واقع ده. په درې کې روان سیند یو پُل لري. همدا شان په همدغـهٔ نوم په همدغـې درې کې یو کلی هم سته.
یالور : ۳۷ ــ ۳۷ ، ۱۵ ــ ۷۰ : د « راونجاب[6] » او د پنجه د سیندونو د یو ځای کـېـدنې په ټکي کې د یوهٔ کلي نوم دی.
یاماک : ۱۴ ــ ۳۶ ، ۳۲ ــ ۷۰ : دا د یوې وړوکې درې نوم دی چې په «وَر- ورځو[7]» سیمې کې له شمال لویدیځ لورې د انجمن له درې سره یو ځای کـېـږي. په دې درې کې ځو کوچني کوچني کلي دي او د درې ټیټنـی پای په ګڼو ونو ډک او ډېر ئـې د ولې په ونو پوښلي دي.
یامچي : ۵۴ ــ ۳۵ ، ۲۹ ــ ۶۸ : دا د تاجیکانو یوه ځانګه ده چې په دهنـهٔ غوري کې ژوند کوي او شـمـېـر ئـې ۸۰ کورنۍ ژوند کوي. *دا کلی د چشمـهٔ جُنګان په ګاوند کې واقع دی. په همدغـهٔ نامـهٔ د رُستاق د شمال په ۲ مایلی کې یو بل ځای هم سته.*

نور بیا
یمګان : وادي یامګان

[6] -Rawenjab
[7] -War-Warzu

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ